ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۶/۰۱/۱۰

# د نزار قباني او بلقيس لومړی ملاقات

په ۱۹۶۲م کال کې بغداد کې يوه لويه مشاعره جوړه شوې وه. چې نزار قباني ته د شعر ويلو وار ورسېده، نو په اورېدونکو کې ناستې يوې ۲۰ کلنې نجلۍ باندې يې سترګې ولګېدلې، چې د ځنګ ملګرې ته يې د نزار د شعر صفت کاوه.

ښو ځله د نزار او نجلۍ نظرونه سره ټکر شول. هغې ښکلې جامې، ښايسته څېره، زړه وړونکې سترګې او په شعر پوهېدو طبيعي وړتيا لرل.

نجلۍ په عراق کې د سوريې سفارت کې کار کاوه.

۷ کاله وروسته چې عراق کې بيا مشاعره شوه، نو نزار بيا راغی او يو شعر يې ووايه چې عامو خلکو بې اندازې زيات وستايه. خو يوازې بلقيس او نزار پوهېدل چې دا شعر د چا لپاره دی او په شعر کې ستايل شوې نجلۍ څوک ده؟

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ